<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

## که ټول غربي حکومتونه او په اسلامي نړۍ کې يې اجنټان هم پر حزب التحرير بنديز ولګوي؛ حزب التحرير به که خدای کول خلافت بيا تاسيسوي او غربي نړيوال نظام به له منځه وړي

(ژباړه)

د پاکستان تر ټولو مشهورې انګليسي ژبې ورځپاڼې، ډان (Dawn) تر «بريتانيا پر حزب التحرير د يوې ترهګرې ډلې په توګه بنديز ولګاوه» سرليک لاندې په بريتانيا کې پر حزب التحرير د بنديز لګولو خبر ورکړی. دغه خبر په ټولنيزو رسنيو او بانفوذه حلقو کې بحثونه راوپارول. حزب التحرير- ولايه پاکستان په پاکستان کې د واک او نفوذ خاوندانو ته لاندې ټکي وړاندې کوي چې غور پرې وکړي:

۱. بريتانيا چې د ډيموکراسۍ "مور" او د "ليبرال آزاديو" زانګو ده، پر نړيوال اسلامي سياسي حزب، حزب التحرير بنديز ولګاوه. په دې توګه يې د بيان ازادۍ په اړه خپلې ټولې ادعاوې خاورو ته وسپارلې. دا پريکړه غربي روڼ اندو او سياسي ناظرينو ته يو ټکان و. حزب التحرير له څه باندې اويا کلونو راهيسې په خپله ناوسله‌واله، فکري او سياسي مبارزه مشهور دی. د نړۍ تر ټولو مشهورو فکري بنسټونو، حکومتونو، د بشري حقونو سازمانونو، محکمو او رسنيو سلګونو ځله د دغه حقيقت شاهدي ورکړې. ان د برتانيې د حکومت څو څېړنې همدا وايي. دا بنديز حقوقي بنسټ نه لري او نه د روښانه اخلاقي توجهاتو په بڼه لګېدلی؛ بلکې د بريتانوي سياستوالو فرېب او حيله ده چې سياسي انګېزه لري.

۲. دغه بنديز په ډاګه کړه چې حزب التحرير غربي تمدن دې ته اړ کړی چې په فکري او سياسي ډګر کې ماتې ومني. دغه راز يې وښوده چې د بيان ازادي يوازې هغه وخت د منلو وړ ده چې مسلمانان د غرب ظالم نړيوال نظم ونه ننګوي. دا د غربي تمدن د فکري برترۍ د ماتې اعلان هم دی. مخکې يې د ټولو نورو ايډيالوژيو احزابو ته د بيان ازادي ورکوله؛ که هغه کمونېست وو او که سوسشيلېست؛ ځکه دوی باور درلود چې غربي تمدن، د خپلې "برترۍ" له امله نورې ټولې ايډيالوژۍ شاته کولی شي. دوی باور درلود چې غربي تمدن به ټول اړخونه فکري ماتې او تسليمۍ ته اړ کړي. خو برتانيې د اسلام د رښتينو، ځواکمنو او د منلو وړ افکارو پر وړاندې له بنديز، سانسور او جبر پرته بله لار نه ليده. په هر حال، بريتانيا –چې د عربو او ترکي همکارانو په مرسته يې د ۱۳۴۲هـ.ق کال په رجب/د ۱۹۲۴م کال په مارچ کې د خلافت د سقوط لپار کار وکړ- به ډېر ژر د خلافت بيا تاسيس ووينې او د دغې کرکې ځواب به يې ورکړل شي.

۳. حزب التحریر دا یو ویاړ ګڼي چې د فلسطین د سپېڅلې خاورې لپاره د ځواکونو د بسیج غوښتنه کوي. هیڅ محدودیت یا بندیز د دوی د اسلامي مکلفیت په لاره کې نه شي خنډ کېدی. حزب التحریر به په همغه شدت خپلې مبارزې ته دوام ورکوي. پر حزب د جان باګوت ګلوب (John Bagot Glubb) لخوا لومړی بندیز هم انګلستان لګولی و. برتانوي ډګر جنرال، جان باګوت ګلوب (ګلوب پاشا)، چې د اردون د پوځ لوی درستیز و، په اردن کې یې د حزب التحریر پر فعالیتونو د بندیز ډاډ ورکړ. خو په اسلامي نړۍ کې د غرب د اجنټانو له لوري پر حزب له دغو بندیزونو سره سره حزب التحریر تر ځلوېښتو زیاتو اسلامي خاورو ته ورسېد او په اسلامي نړۍ کې تر ټولو لوی سیاسي حزب دی. حزب التحریر د غزې او فلسطین د ملاتړ لپاره د پاکستان، ترکیې، اردن او مصر په ګډون د مسلمانو وسلهوالو ځواکونو د بسیج لپاره شپه او ورځ کار کوي. سره له دې چې د حزب التحریر فعالیتونه لا له وړاندې په اسلامي نړۍ کې د غرب د ډېرو اجنټانو له لوري منع شوي دي. نو یو نوی بندیز به زموږ په فعالیتونو کې د هیڅ بدلون لامل نه شي. تر څو لسیزو هلو ځلو وروسته په لسګونو هیوادونو کې د حزب التحریر شباب ښه پوهیږي چې کله د دعوت پر وړاندې دروازې وتړل شي؛ الله سبحانه وتعالی یې پر مخ نورې او تر هغو غوره دروازې پرانیزي.

۴. د بیان آزادي یوه کمزورې او ناسمه مفکوره ده چې ریښه یې له دین څخه د ازادۍ لپاره د سیکولرانو مبارزې ته رسېږي. دا د دیني ارزښتونو د سپکاوي لپاره د غرب وسله ده چې د حکامو په محاسبه او د ټولنې د ناسمو او ناوړه افکارو د اصلاح په برخه کې ناکامه ثابته شوې. پر حزب له بندیز څخه دا ښه په ډاګه کېږي. په اسلام کې د سیاسي او فکري مبارزې اساس، د امر باالمعروف او نهی عن المنکر سپېڅلې دنده ده. دا د حزب د مبارزې شرعي اساس دی. دا اساس د کفر، ظلم او باطل پر وړاندې د خبرو کولو دیني مکلفیت رامنځته کوي. هیڅ محدودیت یا سانسور نه شي لغوه کولی. د ظالمانو له لوري د زیان د وېرې په سبب له دغه مکلفیت څخه غفلت نه شي کېدی. د دغه مکلفیت په لاره کې مبارزه هغه مهال لوی اجر لري چې د ظالمو حکامو پر وړاندې د حق کلیمه پورته شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةَ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»**

**ژباړه:** *تر ټولو غوره جهاد، د ظالم پاچا پر وړاندې د حق خبره کول دي.* [ابو داود]

نو د حزب مبارزه مخ پر وړاندې روانه ده؛ تر دې چې د انګلیسۍ ښځې د قمارباز زوی، د اردون پاچا په ګډون په اسلامي نړۍ کې د غربي اجنټانو تختونه تر راپرځېدو وړاندې د لړزېدو په حال کې دي.

**اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** غرب په ښکاره د اسلام، خلافت او جهاد پر وړاندې خپله کرکه څرګنده کړې ده. حزب التحرير يوازينی اسلامي حزب دی چې د غربي نړۍ د ظالم نظام پر وړاندې د اسلامي بديل پلې کولو ته پوره چمتووالی لري. دا مهال په نړۍ کې يوه سخته ايډيالوژيکه جګړه روانه ده؛ د اسلام او کفر جګړه؛ خو ستاسو رهبري په دې جګړه کې له غربي سياسي نظام سره په ملګرتيا د کفارو ته وفاداره ده. موږ دا جګړه يوازې هغه وخت ګټلی شو چې تاسو دا رهبري لرې کړئ او حزب التحرير ته د نبوت پر منهج خلافت د بيا تاسيس لپاره نصرت ورکړئ. يوازې هغه وخت د غزې مسلمانان د يهودانو له منګولو ازادولی شئ. د خلافت تاسيس د الله سبحانه وتعالی وعده او زمونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم زېری دی. دا مکلفيت به يا تاسو ادا کوئ؛ يا به يې نن او سبا او يا لږ وروسته ستاسو په ځېر نور کسان ادا کړي. نو ولې دا ستر وياړ نه ترلاسه کوئ؟ څه شی مو مخه نيسي؟ الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**«وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا»** [نور: ۵۵]

**ژباړه:** «الله *تعالی له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی او نېک کارونه کوي، ژمنه کوي، چې هغوی ته به د ځمکې پر سر خلافت ورکووي، لکه څنګه يې چې مخکنيو ته د ځمکې خلافت ورکړ او هغه دين چې د دوی لپاره يې خوښ کړی، هغه به پر خپل ځای پاتې او ريښې به يې وغځېږي. د هغوی وېره به په امنيت او ارامۍ بدله شي...*»

**د حزب التحرير۔ ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رجب ۱۰مه**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۲۲مه**

**د صدور ګڼه: ۳۰/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**